د پښتونخوا پوهنیزو او لیکوالو ګونډه
د پښتونخوا پوهنیز او لیکوال ګونډه ـ پښتونخوا / افغانستان

> تر به یم لاړ د میړنو سره ځم
> یم پښتون د پښتنو سره ځم
> خوځي راغونډ په یو مرکز کې نه کړم
> هرې تیټې نه د جرګو سره ځم
> وائي غیاړې چې د دوزخ تر به د ه
> نه به جنت له د پښتنو سره ځم
>
> حمزه "شنواری"

# پښتون

لویدیځ جرمني

بنسټ ایښودونکی : باچاخان

ګڼه (۵) کال . 1986 ع میاشت اګست درې میاشتنۍ خپرونه

## باچاخان او اوسني حالات .

تاسو ته زه نن بیرته کوم زه تاسو ته یو خو خبرې پرېږدم کوم چې تاسو ماسره وعده اوکړې چې مونږ به پرې عمل او کړو کوم صرف د عمل او کړو د پاره دا خبرې زه تاسو ته کوم ، او له خبره زه خپلو سیاسي مشرانو ته کوم هغوی ته دا وایم چې تاسو ګلیالي زموږ او د ملک خدمت کوی تاسو ټول حق د جهد چې دی دا د دې خبرې د پاره دی چې انتخابات وګټو او یو حکومت جوړ کړو د اجهر لوره مهمه خبره ده چې هیڅ یو قوم چې د هغوی خپل حکومت نه وی هغه قوم ترقي کولی نشي کولی د دمره عرض در ته کوم چې ضیاالحق به هیڅ شان انتخابات نکوي او نه مارشلا ختموي ، بلکه دا چې شیخ مجیب الرحمن خو انتخابات ګټلي وو او هغه په لوی اکثریت ګټلي وو او ټول قوم هغه سره وو ، صدر یحیی اعلان کړی وو چې شیخ مجیب الرحمن به د پاکستان وزیر اعظم وي خو هغه وزارت ورله چا ورنکړو د بنګال د عوامي لیګ او نه ملی ولي خان د سترګو علاج لپاره په لندن کښي وو . چې صدر یحیی را وغوښت ورته ئې وی چې د بنګال مسلې حل کښي خپل کوشش وکړې ، ولي خان د مسلې حل کولو لپاره خپل کوشش اوکړه - ولي خان راته خبره کوله چې په اخر ځل چې مجیب الرحمن او لیدو هغه را ته ژړل او وې او به سترګو کښي ئې اوښکې راغلې را ته ئې وی چې - ولي خان زه خپل وطن ته واپس نه ځم ، زموږ د قسمت فیصله اوشوه ما ورته وی چه څه فیصله اوشوه هغه را ته وی چې بس ټکا پنجابي جرنیلان صدر یحیی له ورغلي وو او ورته ئې وی چې دا پاکستان دی نو حکومت او اقتدار به د پنجابي وي - صدر ورته په جواب کښي اوی چې انتخابات خو مجیب الرحمن ګټلي دی . پنجابیانو ورته وی چې مونږ به ئې د یو ټک په شپیلی ختم کړو د جناح صاحب پاکستان خو پاتې نشوه او جناح صاحب خو وی چې دا ملک د مسلمانانو لپاره جوړوم د ملک ۵۶ فیصده مسلمانان خو بنګالیان د ملک نه او ویستل او هغه ملک هم پاتي نشوه اوس تاسو چې کوم ملک د پنجي

دا خو د پنجاب سرمایه دار ، جاګیردار او پنجابي فوج پاکستان دی . زه پښتونو ته وایم چې حق غوښتل څه جرم نه دی خپل حق غوښتل څه مخالفت نه دی خپل حق غوښتل څه بغاوت نه دی ، تاسو حق غوښتنې شئ . دا ستاسو حق دی خو تاسي به همېشه شوي ئی دا باسین اوبو ته اوګورئ ، اباسین ستاسې دی او د بین الاقوامي قانون چې کوم سیند په کوم ملک بهیږي په هغه د هغه ملک ، وطن حق د ټولو نه اول جوړیږي خو ای پښتنو تاسو ته چا اوبه درکړې دی د تربیلا اوبه ستاسو دی . بیا (بند) ستاسو دی خو تاسې ئې ورکولي سوري هله درکړې چې مفتي محمود پیر منتونه او - خوشامندي اوکړې اوس خو د افضل خان د خولې نه را نه معلومه شوه چې هغه سوري ئې هم بند کړې اوس خو

( پاتې څلورم مخ )

لیکوونکی ـ ښستري

## د پښتونولۍ پېژندګلوي .

پښتونولي یو غیر لیکلی اولسي سیستم دی چې سیاسي ټولنیز او حقوقي خوی لري او ټول دا ئې په جرګه ولاړ دی پښتونولي د پښتنو لیکوالانو ښه موضوع ده د نړۍ د لیکوالانو پام هم ځانته را اړولی دی او ډیر ښه موضوع ئې ګرځیدلې ده نو ځکه مونږ ګڼو لږ څه چې د پښتونولي په باره کښي څیړونکو ویناوي کړي یو شمېر اروپائي پوهان خو ورته پرېږدو . مارکس کلیم برګ ( Marx Klimburg ) د پښتونولي د لاندې د پښتنو یو عنعنوي " حقوقي سیستم " په هیڅ چې ترتیبولو سره قضا (محکمه ، عدالت) ئې جرګه ده او لیکي چې جرګه دارالاداره د لیلا ایتلو لپاره ورو شمه او د کښي د صحې نیوۍ لپاره نه مشر لري او نه د غوړي په وخت کښي د هر تن د پاره ټاکلې ځای وي ، شمې په ناستې ځای کښي د هر ځای د ګتني نو په جرګه کښي ناست وي او د هر څوک خبره کړي . غواړي کولی شي چې پا خپل خبري وکړي او لاړ شي . د جرګي د پرېکړو لپاره د رای ورکولو شرط نه دی هیچکله رای نه اخستل کیږي بلکه د مخالفو کسانو لپاره اتهبت

لري د جرګې د پرېکړې عملي کولو د جرګې ګډون کوونکو مجبور ټولنیزه دنده ده . همدغسي جانټا ( Janata ) او کراوزی ( Krause ) او ځینې نور بهرني لیکوالان پښتونولي د پښتنو لپاره ځینې حقوقي دود ، او یا د " ویاړ دود " ګڼي . د پوره شمېر لیکوالانو دا نظریه چې پښتونولي د پښتنو لپاره ځینې یو حقوقي دود یا سیستم دی مونږ ته بشپړه نه بریښي ځکه چې جرګه چې د پښتونولي تر ټولو لوستی مقام دی یوازې حقوقي پرېکړې نه کوي بلکه ټولنیزې او سیاسي پرېکړې هم کوي . د دې خبرې ښه مثال دا دی چې احمد شاه بابا هم د جرګې له خوا د افغانستان مشر ټاکل شوی دی . لدې امله پښتونولي یوازې یو حقوقي سیستم نشي ګڼل کیدلی . ځکه چې د پښتونولي ساتنه ویره ده لکه د سرکار (دولت یا سیسټم) په شان قانون جوړونکی پارلمان چې اجرائیه او عدلیه قوه پکښي را ټوله شوې ده . همدغسي د کلیم برګ ( Klimburg ) دا خبره سمه ده چې د پښتنو جرګه یو دیموکراتیک تنظیم دی چې هر څوک پکښي په ازاده توګه خبرې کولی او خپله نظریه څرګندولی شي خو دا چې دا وائي چې جرګه مشر نلري - یوه هکه ښکاره ده چې وداګر چې جرګه مشر او مشران لري خو دغه مشران د ټولو په واسطه نه ټاکل کیږي بلکه عنعنوي منل شوي کسان دی . د مثال په توګه جرګه کښي چې یو قومي مشر ناست وي سړی ویلی شي چې دغه جرګه د هغه د مشرۍ لاندې وشوه .

**د پښتونولۍ اړخونه :** پښتونولي درې اړخونه لري .

1 - پښتو : پښتو یوازې د پښتنو په ژبه نه بلکه د یو شمېر صفتونو څخه جوړه شوې ده لکه پت ، ننګیالي ، ننګ ، میړانه ، ورور ولي ، او داسي نور .

2 - دودونه او رسمونه : لکه سوله ، رغه ، ناغه ، ننواتې ، او داسي نور . کله چې د یوې جرګې پرېکړه د لوړې جرګې له خوا ومنل شي نو دوه خواوې په تیرېدو سره د دوستۍ ګرځي .

3 - پېغور او بدل : د پېغور په واسطه د پښتنو پښتو (صفتونه) په سوال کښي راځي کیږي او پښتانه د ټام - اینودو او بدل اخستلو لپاره په حرکت راځي .

( پاتې څلورم مخ )

## باچاخان ...... (دلمړي مخ پاتې)

هغوی مونږ تباه کوی د کالاباغ په بند، چې جوړیږي دا
بند چې جوړ شي نو د پښتنو او کوهاټ لویه علاقه او
لږ شمیره کلي به د اوبو لاندې راشي او تباه به شوه. دا
بند مونږ او کالاباغ دوی د خپل ځان لپاره جوړوي، عجیبه
خبره ده چې د سپټمبر په ۴ د جنګ اخبار کښې فلا لوستلو
چې که پنجاب چیلې اوبه په هندوستان ځي کیږي نو چې
لې کیږي چې هندوستان زمونږ نه اوبه وړي نو بیا
منږه کې کیږي زمونږ به اوبو لې قبضه اوکړي او مړداځي
چشمه جهلم لینک کانال منګلا بند جوړ کړو، چې په
هغه کښې زمونږ د میانوالي ضلع ۵۲ کلي او ډېره زرخېزه
ځمکه د اوبو لاندې راغله او د حکومت ورباندې ۵ پنځه
اربه روپۍ هم خرڅ شوی. ای پښتنو تاسو، مونږ
ټول قوم غلامان یو او غلامي د خدای لعنت دی یو خو
غلامان یو او دیل ده کښې د کرهي او لیبي شوق پیدا متویږي
دا ماسي لوړ من دی چې په کوم قوم کښې پیدا شي هلته
نه جمهوریت راتلی شی، نه سوسیالیزم، کمونیزم ،-
نیشنالیزم، نه اسلام راتلی شی هغه قوم چې د کرهي او
لیبۍ شوق د کې پیدا شي هغه قوم بې غیرته شوی
بې همته شي او خوشامندي شي، زه سیاسي کارکو افسرانو
ته وایم چې زما ملک مونږ ازاد کړیدی ځکه تاسو ن -
ورکښې ګورنران، کمشنران، ډپټي کمشنران، پولیس او
د فوج جرنیلان ځي د اقوم ستاسې هم دی د دی قوم
مرسته وکړۍ نن چې د سند، پښتون، بلوچ اتحاد او
یووالي خبرې کیږي، دا خبره د ری کاله وړاندې مونږ
کړې وه او زمونږ پښتنو، سندیانو، بلوچیانو -
اتفاق هم ورباندې راغلی وو خو حکومت مونږ ونیولو
او جیلخانو کښې ئې بند کړو او نوی صوبې نه بلې صوبې
ته تلو باندې موږ پابندي ولګوله، نن چې د دې ځمي
اتحاد ضرورت زیات محسوس کیږي نو ځکه زه سندي
بلوچي او پښتون ته خواست کوم - راځئ چې خپل
منځ کښې کینو او د خپل مستقبل د پاره یو صلح او
اتفاق وکړو.

ستاسو خدمتګار
عبدالغفار

## ✧ خلق ته هم ✧

پښتون بیا د همت توره تره کړه
توپالي او باتوران دي د میدان
هغه هم خندا کړه چې انګلیس د پښتو ناست وو
د روسانو چې خېژي تر اسمان
د پښتون غیرت نن بیا د ره یو دولي.
په لوی غېږ باندې کوم نه دا بیان
د پښتون زړه او قوت ځلانده لمر دی
دا دروغ مه دی شکاره ده په جهان
پښتونو راځئ لاس سره یو کړو
چې آزاد کړو خپل وطن افغانستان

ف. صدیق.

## امیل

هغه امیل چې پرمې شه د زړه چې ورکیږي نه
هغه ننګیال چې پرېشه خوشحال چې مونږ کیږي نه.
ولکه ته ننګونه په پښتونو به مبین شه.
هغه وعدې چې ډېرې یې د پښتنو کړې چې ماتیږي نه
ځان ته اشاره د هغه زړه په پښتون افغان کړه
چې د اصلیت به دی د نیا کښې عیب کیږي نه
مغلي مړني وو پښتانه په توره باندې.
اوس د قلم وخت دی جنګ په توره باندې کیږي نه
ټیل بدن زخمي که دی په توره کې دا به جوړیږي
پر د قلم زخم په دنیا چې دی روغیږي نه
وړاندې لاړې چې په میړو باندې نغمه کړه.
هغه چمن چې کړه چې ګلونه تری پیښیږي نه
لرې کړه تعصب د زړګي نه ضلال شه.
چې په تندی کوږ باندې شه ورکیږي نه
ټوله دنیا کوم هر یو قوم په اتفاق دی.
یو پښتو کښې دا کمال را زېږیږي نه.

- نامی -

## د پښتونولی ...... (دلمړي مخ پاتې)

### د پښتونولۍ فلسفي او تیوریکي بنسټ:

د هر لوړ لېنی سیستم د دوی او چلید د پاره درې شرطونه
ضروري دي:
الف: شاسندویه لسان
ب: یوه تیوري (نظریه)
ت: یو د تبلیغاتو ځای

پښتونولي دا درې شرطونه پوره کوي. د پښتونولۍ نظریه
پښتو او شاسندویه ئې جرګه ده او د تبلیغاتو ځایونه
ئې کورنۍ، حجره، او دیره ده.

د پښتونولۍ دیموکراتیک خوی په پښتو کښې پروت دی
چې د یو لړ ضوابطو مجموعه ده چې هر پښتون ئې باید دی چې
ولري که غیب دی او که موي د شال په توګه. ننګ،
میړانه، توره او داسې نور، د لته پکار دي چې دا خبره
هېره نکړو چې ځینې پوهان وائي چې د جرګې سیستم چې یو -
دیموکراتیک سیستم دی چې په پخوانیو قبیلوی او هیړی
ټولنو کښې هم موجود وو، کوم چې د بې طبقاتو ټولنو یوه
ځانګړنه یا ارغونی بڼه ده څوک چې طبقاتي ټولنه چې سیاسي
مرسته هم مل وو منځ ته راغله نو د جرګو دغه سیستم هم د منځه
لاړ. بیدی لپاره کښې انګلس (Engels) د مارګن (Morgen)
په حواله سره د ایروکیزن (Irokesen) د سنیکاس
(Senekas) قبیلي ته توجه نیسي. د دغه قبیله د تعدد د
نومونو په نسبت په اتو خیلونو ویشل شوي وه چې هر خیل
یوه جرګه لره چې بالغو نرانو او ښځو پکښې د رایو مساوي حق
لرلو. د دغه جرګې د سولې او جګړې مسائل تاکل او لرې کول
شو. د دې اتو وارو خیلونو د سولې او جګړې د مسائلو
فیصله د سنیکاس (Senekas) د قبیلې جرګه جوړه شوی
وه. که څه هم شو لږ ډېر ویشو چې د ایروکیزن (Irokesen)
د سنیکاس د قبیلي جرګه چې د طبقاتي ټولنې په منځ ته
راتګ سره د منځه لاړه - د پښتنو جرګو سره توپیر لري.

۱ - د پښتنو په جرګو کښې رای نه اخستل کیږي حال دا چې
د دغه خیلونو په جرګو کښې د رایو اخستلو رواج وو.
۲ - د پښتو جرګې غیر مرکزی او هیڅوک ته هم لرې چې
یوه جرګه ئې د بلې پورې تړلې نه ده حال دا چې د دغو خیلونو جرګې
لکه د سیکاس په شان په مرکزي اصولو ولاړې وی.
3 - د پښتو جرګې د لنډ وخت لپاره منځ ته راځي حال دا چې
د دغه خیلونو جرګې لکه د سیکاس په شان یو دایمي تنظیم و.
۴ - د پښتو جرګې د هر چا له خوا راغوښتل کیدلی شي او
په یو وخت د ضرورت له خوا او کله کله د پښتو د ضرورت
له امله پخپله یې لری څه چې حرکت ئې راو غواړي -
منځ ته راځي او خلک د جرګې لپاره رابولیږي د جرګې
د کلي ونکو او نورو څرنګوالي او شمیر د لمیت او لمیت د پښتنو او
اولانې د څرنګوالي پورې اړه لري حال دا چې د دغه خیلونو
جرګې د سولې او جګړې د مسائلو له خوا راغوښتل کیدي
د دې ټولو په نتیجه کښې ویلی شي چې د ایروکیزن
(Irokesen) د سنیکاس (Senekas) د قبیلې جرګې
په ټیټه سویه سره کټ مټ سیاسي کار (دولت، ستیټ) ته
ورته دی. نو کله چې په طبقاتي ټولنه کښې په جګه سویه
سره سیاسي کار منځ ته راغی نو دغه جرګې هم د منځه یوړې
ولې چې په جګه او غوړه سویه سره تنظیم په ټیټه سویه
د همغه شان تنظیم ځای نیسي او د منځه ئې وړي. خو د
پښتو جرګې د سیاسي کار په برخلاف غیر مرکزي، حیلواک،
او موقتي خوی لري او بې د رایو څخه پرېکړې کیږي
چې لږ امله سیاسي کار د دې ځای نشي نیولی. پښتونولي
یو تړلی او بشپړ او ولسي دیموکراتیک سیستم دی چې خپلې
لانجې پخپله حل کولی شي او د پښتو ملي هویت پکښې خوندي
دی او د هر ډول پردي تیري او استعمار په مقابل کښې
د ځان دفاع کوي.

**Sozialdemokratische Organisation**
**der Paschtunen e.V.**
(Mitglied der Pashtoons Social Democratic Party)
Postfach 101526
5000 Köln 1
West Germany

خبرونکی
او
زموږ وار:

د خبرونې او کتنې د جرګې مشر:
M. Scherien
Breslauer str- 21
2160 STADE
W. Germany
Tel: 04141 - 46214

د پښتون د درې میاشتنی خبرونې لپاره
خپل مضمونونه او لیکونه د خبرونې او کتنې
د جرګې د مشر په پته رالیږئ.

÷ د ازمونو جوابونه ÷

۱ - امستا.
۲ - اشمان.
۳ - خوله.
۴ - انار.

## په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله یادونه:

په کال 1928ع د مۍ په میاشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاری کړه، چې کله به اووه ورځنی، کله لس ورځنی، کله میاشتېنۍ او کله به درې میاشتنۍ خپریدله.
په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بیا د1931ع کال د مۍ په میاشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خلیق ته حواله شوه .
کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بیا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې یو ځل بیاجاری شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بیا خپره شوه او د پاکستان دجوړیدو سره سم بیا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسی وغزېده

پدی ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ ایښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکترکبیر ستوري په لارښوونه د پښتون سوشل دیموکراټیک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې یوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.
په 1982 ع کال دمارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتیته (خپره) شوه.
د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې
درنښت
نصیر ستوری